یو لنډ دا ستان

ددا ستان لیکونکی : پوهندوی دوکتور سید حسام (مل)

***

# د سید رحمان ما ما لاهوری

# برگه سپی

پسرلی وه ، هره خوا سهارنی یخ نسیم چلیدل ، غزلبو لو توتکیو پسرلنی نغمی غږول ، بوراگانو د گلونو چاپیریال کی ښکته او پورته را تاویدل ، بلبلانو دگلونو په گلبرگونو کې سینه وهل او د گلو اغزیو ته باج ورکول او نا فرمان گلو نو ته دخپل دمینی راگ اورول ، اونو، شنی اود کلی کروندی زمردی زرغونی جا می اغوستی او د کلی د شاوخوا په پاسته خاورین غونډیو او د غرونو په لم نو کی سره غاټولی سهارنی پرخ او شبنم ته خپل گلورین جامونه پورته خواته را سته نیولی اودخپل د سوځیدلی زړه د تک تور داغ تنده ماتوله ، چڼچونو هره مازدیگری دغتو اونو په ښا خونو او نودو کی خپل شپنی بستر جوړول او او په چیغو او نارو سره دما ښا می د ښښی او ښښا نی زیری را کول .
کلیوالو یو د بل سره ، په مینه ، محبت ، ورور گلوی ژوند کاوه . کلی چی د سیند په اړخ کی پروت وه ، هر سبایی دهغه د مستی سرکش څپو اود هغه واورین یخی رڼی اوبو چی دسیند په مینځ کی دغټو تیگو د تندی له پا سه ښکته تویدل او په ډیر شدت او بیړه سره د سنگ لاخو دلوړی او ژوری څخه تیریدل په زړه پوری شره هار او خوندوری اوازونه پورته کول او د بامونو په سر په پلنگی کټونو کی دملا ستو کلیوالو دنر اوښځی غوږونو ته سندری او منظم اوازونه او د مینی او خوشحالتیا پیا مونه او پیغا مونه له ځانه سره راوړل ، .چی

د سرې غونډونو ته ارامتیا او ارامش ورکول ، ددغه په زړه پورې شرهار او موزیکل آ هنگونو سره جوخته ، د شمال له لورې دمیشته کلیوالو په مخ یخ پسرلنی ملا یم او ساړه سیلی او بادونه لگیدل ، د کلی د باغگوټو په شنې او په زرغونو پاڼو پټ ښکلی اونو کی د هزار دا ستان بلبلانو پر له پسی په سر او تال سره برابر سهارنی ترانی او ښکلی نغمی دکلیوالو روح اوروان ته نوی تازگی ښښل . دکلی د چنارونو داونو پاڼی د بهاری یخ نسیم او د شمال په مخ په ا هتزاز او په گډا د پسرلی نغمی غږول ، دولو داونو او د سپیدارو سپین اوشین دوه مخه پاڼی تر یخ سیوری مینانو چی درسته شپه په شبگیریو کی تیر کړی وه او دخپلو محبوبو په یاد دخیالونو په تال زنگیدله ویده او خپل غرمنی خوبونه کول .
د کو چیا نو لوی او وړی کاروانونه او قافلی په هغه سرک کی چی دکلی په اړخ کی پروت وه روان او د اوښانو قطارونه او منظم لیکی یو بل پسی په مستقیم کرښه کی خپل مزلونه وهل د قافلی په سرکی داولنی اوښ رسی دکوچیانی دښکلی مستی پیغلی په کجل توری سترگی په نری او سپین صراحی مانن غاړه کی دلونگو دامیلو جیلونه اوپه سپینی او سره انار رنگه بار خوگانو اوسری پستی شونډو کی زرغونی خالونه چی قطار قطار راښکاریده په لاس او دځړ ځایو خواته په ډیر ناز او کوچیانی نخرو سره مزل وهل .
دکلی بز گران او دهقانان پخپلو ځمکو کی یوو کول او دکلی نور خلک په راز رازکارونه خپل مشغولتیا ساتل، دکلی هلکان اوانجنو ډلی ډلی ښونځیو ته روان او زده کړه کولی ، دکلی ځوانان او پیغلی خپل خیال ساتل ، اودراتلونکی ژوند انځورونه دځانه سره ایستل، هر مازدیگری دگدر غاړه د ښایسته او زړه وړونکو پیغلو میله ځای وه او د شنو منگیو او په سپینو لیچودډک بنگالی رنگارنگ بنگړیو په شرنگهار سره دگدر له لاری چی دکلی دځوانو هلکانو او مینانو ولاړ ځای وه خرامان خرامان تیریدل اودخپلو مینو ځوانانوزړونه بوټ ایستل او په لړزه راوړل ، او هر یو خپل پاکه مینه د سترگو په رپ اواشاری سره یو بل

ته ښول ، نه غماز وه ، نه هم متعصب چړی او ملا چې دمینو دمینی او د محبت مزی او رشته وشلوی ، دهغو په مینځ کی مینه وه ، سادګی وه ، را ستی وه ، ځان تیریدنه او یو دبل سره جاریدل اوقربانول وه .

د کلی په وړو باغچو او ځای ځای وړو باغګوټو کی رنګا رنګ ګلان په ستړګو کیدل او محمد ګل لالا دخپلو نورو ملګرو سره دګلانو په مینځ کی پخپل باغچه کی دچرسو چلمونه وهل اوپه خندا اوټوکی سره خپل ساعت او وخت تیرول او له ا سمان اوغر څخه خبری کول اوپخپلو نیشو او خیالونو کی الوتل .

دګلاب ، چمبیلی او دسنځلو دګلانو معطر عطرونه دکلی فضا اوهوا معطر کړی او هر کلیوال دهغه رنګا رنګو ګلانو دعطرونو دمعطری خوشبوی څخه خوند اخیستل .

د کلی نوی ځوانان په راز راز سپورتی لوبو کی دخپلو همزولو سره بخت او خپل روغتیا ساتنه کول ، سپین ږیری دخپلو همزلو اونورو سپین ږیرو سره په ګډه خپل لمونځونه کول او د لوی څښتن له درباره دبښنی او دګناهونو دعفوی غوښتنه کول ، نه دچا غیبت کول ، نه د نورو مال ته کتل ،نه په چا باندی تهمتونه لګول ، او هم نه پخپل زړونو کی کینه او بغض لرل، ساده مسلمانان اودخپل کلیوالو تل خیر غوښتل .هغوی یو دبل سره دخپل دتیرو ،د زمانی اووختونو، قصی او مرکی کول ، کشرانو دهغو درناوی کول اوهغوی هم په کشرانو باندی دمهربانی اوشفقت لاس راکشول .

ښځی دتناره په غاړه اویا دیخو باغچو تر سیوری لاندی نا ست دخپل کور ، اور ، اینګور، خسر ، خوا ښی ، لیور ،اود خپل نورو متعلیقینو په اړه یویل سره مرکی کول او خپل دزړه حال را بیانول ، او ځان خوښ ساتل .

په کلی کی قراره قراری وه او هره کلیوالی ستونزی او شخړی د سپین ږیرو او مشرانو په مشوره او افغانی جرګو سره حل او فصل کیدل ، یودبل مړی اوژوندی ته رسیدل ، په

اخلاص اوورین تندی یو دبل سره مرستی کول ، اودکلی خلک په پوره ارامی ، خوشحالتیا ورو ګلوی او ځان تیریدنه سره څنګ په څنګ لکه یو کورنی ژوند کاوه .
سید رحمان ما ما چی دکلی یو مهربان ، ځوانمرد، او دپوره عاطفی اود تواضع سړی وه اود خپل کلیوالو سره په مهربانی اوورین تندی سلوک چلول دکلیوالو زړونه په خپل لاس راوړی وه ، هغه سره له دی چی په کلی کی دلوی کور او کلا خاوند وه دپلار نه ورته څو جریبه زراعتی ځمکی هم په میراث پاتی وه ، هغه کله کله دسوداګری اوتجارت ذوق هم درلود ، نو په همدی بنیاد هغه ځنی وختونه پیښور ، لاهور ته هندوانی ،ګرمه لغمانی خټکی وچی میوی او ځنی نور صادراتی مالونه وړل اوله هغه ښارونو څخه مالګی، ګلاباتون ، ښځینه سوچه ګلاباتونی پڼی ، نارینه پیښوری څپلی ګانی ،او ځنی نور شیان دخرڅولو دپاره د ځان سره راوړل اود خپل کورنی دخرڅ او د نفقی دبرابرولو دپار ځان په تجارت او سوداګری مصروف ساتل ، وروسته له څو ځلی تګ او راتګ څخه ځان سره له لاهورنه یو دری کلن برګه سپی هم راوړی وه ، دغه برګه لاهوری سپی ډیر ډنګر ، غوږونه یی بوچ لنډ اوپریکړی معلومیده ، او تل د سید رحمان ما ما دکلا ددروازی په مخ کی پروت وه ، په لارویو نه غپیدل ، اما کله چی څوک د سید رحمان ما ما د کلا دروازی ته نژدی کیدل او د دروازی ځنځیرل ښورول ، سپی په غپیدو او ناری سوری باندی دسړی زړه بوټ ایستل او دماما دکلا ساتنه کول .اما نوموړی برګه سپی دشپی له خوا ښکار پسی وتل او دکلی د خلکو د مرغانو مرغانچی لټول او د چرګانو په مرغانچه کی هګی پسی تپ ایستل اوهم کله کله وړه چرګوړی له مر غانچی څخه ښکار کول اوخپل ګیډه پری مړول ،او هم ځنی وختونه دکلی څخه دباندی په تکه تورو شپو کی په پالیزونوکی ورننوتل او دهندوانو اود خټکیو په ماتولو او څیرولواو خوړلو سره پالیزوان ته تاوانونه رسول ، نوموړی برګه سپی څو دانی هندوانی یو بل پسی دخپل نیښتری غاښونو په کمک سره څیرول اودهر

ځیری کړل شوی هندوانه هغه برخی خوړل کوم چی پکی دهندواڼه زړی او تخمونه نه په سترګو کیدل .اوهرسبایی چی پالیزوانان پخپلو پالیزونو ګر ځیدل ، لیدل چی د پالیز په هر کنج او کنار کی نیم خوړلی تازه مات شوی هندوانی پرتی دی ،پالیزوانانو په چرتونو کی تلل چی دا څه افت اوبلا دی چی زمونږ په پالیزو کی ور ګډ شوی . یو له دی پالیزوانانو څخه،له ډیر دقت څخه وروسته ولیدل چی دمات کړل شوی هندوانی په پوټکی کی ددرنده حیوان دتیره غاښونو نښی او نښانی لیدل کیږی ، پالیزوانانو په ګډه سره دی فیصلی ته ورسیدل چی دشپی له خوا خپل پالیز وساتی او ددرنده حیوان د پیژندل اورانیول او وژلو په لټه کی وه ، پس له څو شپو ځنډ څخه یو ددی پالیزوانانو څخه دګزمی وهلو په وخت کی له نژدی کمین څخه ولیدل چی د سید رحمان ما ما لاهوری برګه سپی دهغه دپالیز په یوه غټه هندوانه خپل نښتری غاښونه ښخ او د هندوانی په ماتول لګیا دی ، پالیزوان چی پخپل لاس کی سه صدو سه بر ټوپک هم درلود دکلی ددود په رعایت سره دسپی دوژلو څخه صرف نظر وکړ اودسید رحمان ماما پر سپی باندی ډزی ونکړ. او سهار وخته د سید رحمان ما ما کورته لاړ او ما ما ته وویل چی دستا له دی برګه سپی نه ځما دپالیز هندوانی مات کیږی اوماته او نورو ټول پالیزوانانو ته هر شپه ضررونه او تاوانونه رسیږی ، هغه لا څه چی د سید رحمان ما ما برګه سپی دکلی په کورونو کی ، مستی ، کوچ ، اومه او پښی غوښی ، پیتی او نور خوړو پسی تپ ایستل او ګرځیدل ، اود مستی ، غوښی او نورو خوړو په بوی باندی پوهیده ،اوپه هغه کورونو کی چی شیروار وه اود کور ښځه په غټو مټونو کی مستی تر کجاوی لاندی خوندی سا تل ، د ما ما برګه سپی پر کجاوی باندی حمله ور وړل ، کجاوی په بل مخ اړول او دمستی پر مټ دننه خوله لګول او تر خپلی وسه پوری چی ګیډه یی مړیدل له مټه ،مستی خوړل او کور والا ته غټ تاوان رسول ، او په همدی بنیاد هره ورځ د ما ما د کوردروازه د ناراضو کلیوالو له خوا ټو کیدل یا دهغه دکلا ددروازی ځنځیر شرنګیدل

او ما ما ته دهغه دمضر سپی له لاسه شکایتونه کول ، هغه شپه او هغه ورځ نه وه چی دکلی په یو کنج او کنار کی برگه سپی کلیوال ته تاوان نه وی رسولی ، ددی لاهوری دال خور ، مستی خوړونکی ، هندوانې څیرونکی برگه سپی له خوا دکلی نظم کاملاً ویجاړ شو او د خلکو اوازونه پورته شو او له ما ما څخه دخپلی هگیو ، چرگړو ، هندوانو او دمستو بدله او تاوانونه غوښتل .

سید رحمان ما ما چی مخکی دهغه تر پښو لاندی میږتون هم ازار نه وه لیدلی ، هک و پک او حیران وه چی دغه لاهوری مضر سپی سره څه وکړی ، سره له هغه چی ماما خپل سپی په ځنځیر تړل ، مگر هغه دومره ماهر وه چی دځنځیر دحلقی څخه غاړ ایستل اود ښکار په مخه تلل .ما ما ځان سره ومانه چی نن شپه دبرگی سپی سترگی په یو تور ټکر یا دستمال پټ او هغه له کلی څخه ډیر لری دسیند نه پوری هغه بل خواته په یوه ځنگل خوشی کړی او پخپله خپل کورته ستون شی ، مگر کله چی ما ما سبایی له خویه راپاڅی اوله خپل کلا څخه دباندی وځی گوری چی دهغه برگه سپی ددروازی په خوله کی ملا ست اودما ما په شاو خوا را گرځی او خپل وفاداری ما ما ته ښکاره کوی . ما ما ډیر خواشینی کیږی ، او دځان سره وایی چه دا څه بلا او مصیبت می له لاهوره دځان سره راوړ په همدی چرتونوکی وه چی بالاخره مجبور شوچی دبرگه سپی لاس او پښی په یو ټینگ رسی کلک وتړی اودکلی په لوی سیند کی واچوی ما ما خپل فیصله عملی کړ او خپل برگه سپی یی په لوی سیند کی لاس اوپښی تړلی واچول او خپل کلیوال له لوی عذاب څخه خلاص کړ .

پای